# د قیامت نښې

28-Novmber-2024



هفته وار د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې کېدونکے

د سُنَّتو ډک بیان

(for Islamic Brothers)

په 28 نومبر کال 2024ء د پاکستان په هفته وارو اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# د قيامت نخښې

پۀ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ___ حبشي غُلام او د اخرت فِکر
- ___ د قيامت عِلم ولې پټ وساتلے شو
- ___ د يوې سِکّې کمال
- ___ مور پلار تنګول حرام دي

پیشکش

اَلْمَدِيْنَةُالْعِلْمِيَة

**I**slamic **R**esearch **C**enter

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اِسلامي)

***For Feedback***:+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د اربعين عطّار، قسط: 2، پهٔ صفحه: 8، حديثِ پاک نمبر: 8 دے:

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: مَنْ صَلّٰى عَلَيَّ اَوْ سَاَلَ لِيَ الْوَسِيْلَةَ حَقَّتْ عَلَيْهِ شَفَاعَتِيْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

ترجمه: چا چې پهٔ ما باندې يو ځل دُرُود شريف ولوستلو يا يې د الله پاک پهٔ بارګاه کښې زما د پاره د وسيلې دُعا وکړه، د قيامت پهٔ ورځ پهٔ هغه باندې زما شفاعت ثابت شو۔ (1)

خاص محبوبِ خدا ختمِ رسالت پر سلام | عينِ رحمت شافعِ روزِ قيامت پر سلام
عرض کیجے کافیؔ مشتاق ہر لیل و نہار | صاحبِ لولاک سلطانِ شفاعت پر سلام (2)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

پهٔ حديثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار پهٔ نيتونو دے۔ (3)

---

[1] ...فضل الصلاۃ علی النبی للقاضی اسماعیل بن اسحاق الازدی، صفحہ: 147، حدیث: 50۔

[2] ...کافی کی نعت، صفحہ: 42۔

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! په ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي- راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څۀ ښۀ ښۀ نِيَّتونه وکړو: مَثَلاً ❀ د **الله** پاک د رضا د پاره به تول بيان اورم ❀ په اَدب به کښينم ❀ ښۀ په توجُّه به بيان اورم ❀ څۀ چې واورم، د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم-

صَــلُّــوْا عَــلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## قيامت به کله راځي---؟

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! ''قيامت به کله راځي؟'' دا يو خوندور او ډير زړۀ پورې سوال دے- عام طور خلق داسې سوال خوښوي، ځان هم خبرول غواړي چې اخر قيامت به کله راځي؟ آيا تاسو ته معلومه ده چې قرآنِ کريم د دې سوال بالکل واضحه جواب ورکړے دے- يو ځل غير مسلمو د محبوبِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه دا پوښتنه کړې وه، په قرآنِ کريم کښې دي:

| | |
|---|---|
| يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ السَّاعَةِ اَيَّانَ مُرْسٰىهَا ؕ<br>(پاره:9، سورۀ اعراف:187) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: تا نه د قيامت مُتَعَلِّق تپوس کوي چې د هغې د قائميدلو وخت کله دے؟ |

د دې پوښتنې جواب **الله** پاک ورکړو، واورئ!

| | |
|---|---|
| لَا تَاْتِیْكُمْ اِلَّا بَغْتَةً ؕ<br>(پاره:9، سورۀ اعراف:187) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: په تاسو به هغه ناڅاپه راشي- |

معلومه شوه چې قيامت به کله راځي؟ ناڅاپه به راځي، هغه وخت به راځي چې د خلقو په وهم او ګمان کښې به هم نه وي-

---

[3]...بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:65، حدیث:1۔

# د قيامت د راتللو وحشتناک منظر

نن سبا سائنس ترقي کړې ده ❀ عام طور د ډېرو څيزونو پيشن ګوئي کولے شي ❀ د موسمياتو محکمه وائي چې پۀ فلانکي وخت باندې د باران راتللو امکان دے ❀ پۀ فلانکی ورځ باندې طوفان راتلے شي ❀ پۀ فلانکي وخت به سمندري طوفان راځي ❀ پۀ فلانکی ورځ ❀ پۀ فلانکي وخت به نمر تندر نيسي- خو ډېره زر د کائنات د ټولو نه غټه حادثه راتلونکے ده ❀ هيڅ سائنس ❀ هيڅ يوه ټيکنالوجي ❀ ريډار ❀ سټيلائټ وغيره وغيره هيڅ يو څيز به هم د دې حادثې د مخکښې نه اشاره ورنه کړےشي، د خلقو پۀ وهم او ګمان کښې به هم نه وي چې ❀ ناڅاپه بالکل ناڅابه به نمر او سپوږمۍ بے نُوره شي ❀ ستوري به د باران پۀ شان پۀ زمکه باندې راپريوځي ❀ غټې غټې سيارې به پۀ خپل مينځ کښې وجنګيږي او تباه به شي ❀ او زمکه به پۀ سختې زلزلې سره وجړقيږي-

پۀ احاديثو مبارکو کښې دي: 2 کَسان به پۀ بازار کښې وي، يو به کپړه اخلي، بل به يې خرڅوي، دکاندار به کپړه پرانستې وي او وربنائي به يې، بيا به دوئي دا سودا ونکړے شي، کپړې به واپس راغونډې نکړے شي چې قيامت به راشي- نور ارشاد وشو: يو کَس به ناست وي او ډوډۍ به خوري، دا به نمړۍ راماته کړي، لا تر خُلې پورې به يې ورې نه وي چې ناڅاپه به قيامت قائم شي- (خازن)

يعنې قيامت به دومره ناڅاپه راځي، د مخکښې نه به څۀ پيشن ګوئي نه کيږي، هيڅ اِشاره به نه کيږي، خلق به د قيامت نه بے فِکره، د دُنيا پۀ خوندونو کښې به مصروف وي چې پۀ يو سيکنډ کښې به دننه دا عظيمه او وحشت ناکه حادثه وشي او قيامت به راشي-

# د قيامت يوه بنيادي نخښه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د دې نه معلومه شوه چې د قيامت د راتللو يوه بنيادي نخښه غفلت دے، قيامت به هغه وخت راځي، کله چې به خلق بالکل د دې نه غافله وي، پهٔ خپله دُنيا کښې به مصروفه، پهٔ دُنيائي خوندونو کښې به مصروفه او پته نه لګي چې پهٔ څنګه څنګه کارونو کښې به مصروفه وي، د قيامت طرف ته به د چا هډو پام هم نه وي، هغه وخت به قيامت راځي-

آه! افسوس! که نن مونږه غور وکړو نو د قيامت دا نخښه تر ډيره حده پورې پوره شوې پهٔ نظر راځي، آه! اوس د قبر او اخرت او د قيامت نه غفلت ډير عام دے، اوس مونږه پهٔ دُنيا کښې داسې اوسيږو، لکه چې هډو مړه کيږو به هم نهٔ، د دلته نه هډو تلل نه دي، قيامت راتلونکے دے، ضرور راتلونکے دے، خامخا به راځي، مونږه ټولو ته دا معلومه هم ده، منو يې هم خو د دې باوجود راباندې غفلت راخور دے، سحر د راپاڅيدو نه واخله تر د شپې د اوده کيدو پورې بس هم د دُنيا، دُنيا او د دُنيا فِکر دے، د قيامت پهٔ باره کښې خو هډو خيال هم نه راځي، داسې ټوله ورځ پهٔ لوبو ټوقو کښې تيره کړو او د غفلت پهٔ خوب اوده شو- اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ليکي:

دن لَہو میں کھونا تجھے، شب صبح تک سونا تجھے | شرمِ نبی، خوفِ خدا، یہ بھی نہیں وہ بھی نہیں[1]

وضاحت: ورځ پهٔ فضولياتو کښې تيره شوه، د شپې د غفلت پهٔ خوب اوده شو، نهٔ د ورځې راته خُدائے ياد، نهٔ د شپې د عبادت وخت---!! نهٔ د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه شرم، نهٔ د خدائے پاک نه ويره، دا هم نشته، هغه هم نشته-

---

[1]...حدائق بخشش، صفحہ:111۔

## ما له خوب ځنګه راتلے شي؟

سيد احمد حَرب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د **الله** پاک نيک بنده وو، هغوئي به ټوله شپه ويخ وو، عبادت به يــې کولو، بعضې وخت به ورته خلقو اِصرار کولو، يعنې بيا بيا به يــې وئيل چې اوده شئ! لږ سعت ارام وکړئ، هغوئي به فرمائيل: د چا د پاره چې دوزخ لمبه کيږي، جنَّت سينګاريږي خو هغهٔ ته دا معلومه نه وي چې د هغهٔ به کوم ځائے وي؟ دوزخ ته به ځي، که جنَّت يــې ځائے دے؟ نو هغهٔ له خوب ځنګه ورتلے شي--؟ (تذکرة الاولياء، ج ۱، ص ۲۲۰ )

الله! الله! دا وو د قيامت يادولو والا خلق--!! د دوئي سوچ ځنګه وو، ذِهن يــې ځنګه وو؟ هر وخت به د دوئي په زړهٔ او دماغو کښې د قيامت د وحشتونو ويره وه، د قيامت د ويرې نه به ورله د شپې خوب نه ورتللو--!! او اوس زمونږه څهٔ حال دے؟ که چرته يو خطرناک خوب وه وينو، د قيامت د ذِکر باره کښې بيان وغيره واورو، که بيا راته قيامت راياد شي نو راياد به وي، ګني نو بس د دُنيا په خوندونو کښې مصروف يو، بس هُم د دُنيا په ګټلو کښې مصروف يو-

## حبشي غُلام او د اخرت فِکر

حضرت رِباح رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يو ځل يو حبشي غُلام واخستو، هغهٔ يــې کور ته راوستلو- د هغه غُلام عادت ډير عجيبه وو، دا به نهٔ ېخپله ټوله شپه اوده کيدلو او نهٔ به يــې حضرت رِباح رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خوب ته پريښودلو- يو ځل چې کله شپه شوه، هر خوا تيارهٔ تيارهٔ وه نو حضرت رِباح رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د هغه غُلام نه پوښتنه وکړه: تهٔ د شپې ولې نه اوده کيږې---؟ غُلام زړهٔ بوږنوونکے جواب ورکړو، اوئې وئيل: چې کله د شپې تيارهٔ شي نو زهٔ د قبر او د دوزخ تيارهٔ رايادووم، په دې وجه باندې زما نه خوب وتښتي، زړهٔ مې غمژن شي، بيا جنَّت او د هغې نعمتونه رايادووم نو په زړهٔ کښې مې د عبادت شوق راپيدا شي، نو شپه

پهٔ عبادت کښې تيرووم، اوس هُم تاسو وه وايئ! پهٔ داسې حالت کښې زهٔ څنګه اوده کيدے شم؟

حضرت رِباح رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ چې دا جواب واوريدلو نو هٰغه غُلام يــې ازاد کړو-

(درة الناصحين ، المجلس الخامس والستون، ص ٢٩٥)

## چغه يـې ووهله او بے هوشه شو---!!

حضرت عمر بن عبد العزيز رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ يو ځل پهٔ ژړا شو، عمر بن عبد العزيز رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ چې يــې پهٔ ژړا وليدلو نو د هغوئي کور وداني محترمه حضرت فاطمه بنت عبدُ الملک رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡھا هم پهٔ ژړا شوه، وروستو د کور نور خلق هم پهٔ ژړا شول، چې کله د ژړا سلسله ختمه شوه نو عرض وکړے شو: اے اَمِيرُ المُؤمِنِين! تاسو ولې ژړل؟ اوئې فرمائيل: ما ته د الله پاک پهٔ بارګاه کښې حاضريدل راياد شوي وو د کومې نه پس چې به څوک جنَّت ته ځي نو څوک به دوزخ ته، دا يــې چې وه وئيل نو حضرت عمر بن عبد العزيز يوه چغه ووهله او بے هوشه شو- (1)

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** دا ده د قيامت د ورځې ويره---!! د قيامت د راتللو فِکر! الله دې کړي چې زمونږه هم د قيامت پهٔ باره کښې داسې فِکر نصيب شي! کاش چې د زړهٔ نه د غفلت پردې لرې شي او مونږه پهٔ سنجيدګۍ سره د قيامت يادوونکي او د هغې د پاره تيارئ کولو والا جوړ شو-

مجھے نارِ دوزخ سے ڈر لگ رہا ہے  
ہو مجھ ناتواں پر کرم یااِلٰہی!  
گُناہوں سے بھرپُور نامہ ہے میرا  
مجھے بخش دے کر کرم یااِلٰہی!  
میں تھا لائقِ نارِ دوزخ خُدایا  
دِی جنّت ہے کتنا کرم یااِلٰہی!(2)

---

1 ...حِلیَۃُالاولیا، جلد:5، صفحہ:303، رقم:7201۔

2 ...وسائلِ بخشش، صفحہ:110 ملتقطاً۔

## د قيامت عِلم ولې پټ وساتلے شو

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! قيامت به کله راځي؟ د دې صحيح وخت خو هُم الله پاک ته معلوم دے يا د هغهٔ پهٔ ښودلو باندې د هغهٔ خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته معلوم دے ❀ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د قيامت ورځ هم ښودلې ده چې د جُمعې پهٔ ورځ باندې به راځي ❀ تاريخ يــې هم ښودلے دے ❀مياشت يــې هم ښودلې ده چې د محرم الحرام مياشت به وي ❀ 10 تاريخ به وي- يو څيز کوم يــې چې نه دے ښودلے، هغه دے: کال- کال يــې نه دے ښودلے چې پهٔ کوم کال کښې به قيامت راځي، محبوبِ رَبّ، شاهِ عرب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته معلومه وه خو اوئې نه وئيل، د پاره د دې چې مونږه هر وخت د دې نه ويرېږو او د دې پهٔ تيارئ کښې مصروف اوسو-

## د قيامت نخښې

آؤ! د قيامت راتللو ډيرې نخښې دي، کومې چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مونږ ته ښودلې دي، راځئ چې د قيامت يو څو نخښې واورو او د دې نه مونږ ته عبرت حاصلول پکاردي، پهٔ دې حديثونو کښې چې د کومو خبرو ذِکر شوے دے، مونږ ته د قيامت د تيارئ لړ کښې د هُغه کارونو نه بچ کيدل پکار دي- راځئ چې حديثونه واورو:

## (1): د فتنو کَثرت

د صحابئ رسول حضرت ابو موسیٰ اشعري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: د قيامت نه مخکښې به فتنې داسې راوچتيږي، لکه څنګه چې د شپې تيارهٔ راخوره شي، هُغه وخت به انسان سحر مؤمِن خو ماښام له به کافِر وي، ماښام به مؤمِن او سحر به کافِر وي، پهٔ دغه دور کښې به ناست کَس د ولاړ نه

او ولاړ به د روان نه بهتر وي، په هغه دِور کښې به ❁ناست کس د ولاړ نه ❁ولاړ کس د روان نه [او] ❁روان کس به د منډه وهونکي نه بهتر وي. (1)

الله! الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! په دې حديثِ پاک کښې وه وئيلے شول چې د فتنو کثرت د قيامت راتللو نخښه ده، آه! دا نخښه اوس پوره شوې په نظر راځي، اوس هغه زمانه ده چې د هر طرف نه تشې فتنے راوچتيږي ❁ يوه فتنه د مشرق نه راپورته کيږي ❁ بله د مغرب نه راپورته کيږي ❁ چرته د صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم د بے ادبۍ فتنه ده ❁ چرته د انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام او د اوليائے کرامو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم د شان کمولو ناپاک کوششونه روان دي ❁ غير مسلمه په پوره طور مسلط شوي دي ❁ سوشل ميډيا په خپل ځائے تباهي شروع کړې ده ❁ هغه فتنې کومې چې به مخکښې په يو ښار کښې راپيدا کيدلې نو د خوريدلو نه به مخکښې ختميدلې، اوس د سوشل ميډيا په وجه په يو ورو‌کي شان کلي کښې راپورته کيدونکې فتنه په يو څو ګينټو کښې په ټوله دُنيا کښې خوره شي او يو مونږ يو چې د دې نه غافِله يو-

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د دې دور په تقاضو باندې ځان پوهه کړئ! دا د فتنو دور دے، د دې وخت د ټولو نه لويه کارنامه هم دا ده چې انسان په خپل ايمان بچ کولو کښې کامياب شي- ځکه په پوره سنجيدګۍ سره دې ته پام وکړئ! ځان د فتنو نه بچ کړئ! او د ايمان په حفاظت کولو کښې مصروفه شئ!

## د مسلمان بهترين مال

په بخاري شريف کښې حديث دے، د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: ډيره زر به يوه زمانه راشي چې په هغې کښې به د مسلمان بهترين مال چيلۍ وي، چې خپلې چيلۍ واخلي او د غرونو طرف ته ووځي او د فتنو نه خپل ايمان بچ کړي-

[1]...ابن ماجه، كتاب الفتن، باب التثبت فى الفتنة، صفحه: 638، حديث: 3961 ملتقطاً۔

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا مونږ ته د فتنو نه د بچ کيدو ترغيب راکړے شوے دے چې کله فتنې راخورې شي، د انسان دِين بچ کول مشکل شي، په داسې وخت کښې مؤمِن بنده له پکار دي چې د دې فتنو نه ځانله شي، مثلاً درې څلورچيلۍ د ځان سره کړي او د غارونو طرف ته ووځي، هلته چيلۍ څَروي، د هغې په پئيو باندې خپله ګزاره کوي او خپل ايمان بچ کړي-

اوس وګورئ! مونږ له تعليم خو راکړے شوے دے چې د فتنو په وخت کښې ځان د دې فتنو نه لرې ساتئ! دې ته نزدې کيږئ هم مه! خو افسوس چې زمونږه حال بد دے، دلته خو دا سوچ کيږي چې **اوره د هر چا او کوه خپله،** دا ډير خطرناک سوچ دے، مونږ ته د فتنو نه د بچ کيدو حکم دے، دا نۀ چې مونږه پخپله د دې طرف ته ورمخکښې شو او د فتنو ښکار شو، ښه په توجه سره د دې فتنو خبرې واورو او خپل ايمان برباد کړو، ځکه خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! که ايمان بچ کول غواړئ نو د فتنو نه ځان لرې ساتئ! بس د الله او د رسول په احکاماتو باندې عمل کوئ! ❀ څومره چې درنه کيدے شي نو د نيکۍ دعوت عام کړئ! ❀ حلال رزق ګټئ! ❀ او د خپل بال بچ سره په کور کښې اوسئ! ❀ سوشل ميډيا هم د فتنو يو کور دے، د دې نه چې هم درنه څومره کيدے شي نو ځان ترينه بچ کړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! مونږه به په ايمان سلامت ورلو کښې کامياب شو-

## د ايمان بچ کولو يوه ذريعه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! چې کله فتنې راخورې وي، په هُغه وخت کښې به مونږه خپل ايمان څنګه بچ کوو؟ په دې باره کښې يو بَل **حديثِ پاک** واورئ! خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: **اللّٰه** پاک د مسافرو سره محبت فرمائي- عرض وکړے شو: د کومو مسافرو سره؟ اوئې فرمائيل: هُغه کوم چې د خپل دِين، د خپل ايمان بچ کولو د پاره د يو ځائے نه بَل ځائے ته سفر کوي، دا خلق به د قيامت په ورځ د

حضرت عيسىٰ عَلَيهِمُ السَّلام سره وي-
معلومه شوه چې د فتنو پهٔ دور کښې د خپل ايمان بچ کولو يوه ذريعه دا هم ده چې انسان د خدائے پهٔ لاره کښې سفر کوي ❀ بس د نيکۍ دعوت عام کوي ❀ د قرآن او د سُنَّت احکام زده کوي ❀ نـمونځ ❀ روژه زده کوي ❀ پهٔ جوماتونو کښې پروت وي ❀ سُنَّت زده کوي هم او اختياروي يـې هم ❀ داسې چې کوم خوش قِسمته د کولو والا کارونو کښې لګيا وي ❀ د نهٔ کولو والا کارونو نه ځان ساتي ❀ د فتنو نه لرې وي نو اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيم! د ايمان پهٔ سلامت ورلو کښې به کامياب شي-
اَلْحَمْدُلِلّٰه! د عاشقانِ رسول دِيني تحريک دعوتِ اِسلامي د فتنو نه ډک پهٔ دې اوسني وخت کښې هم د ايمان د حفاظت ذهن ورکوي او د دې ذريعې هم ورکوي، د **الله** پاک پهٔ کرم سره د دعوتِ اِسلامي د دريو ورځو، يوې مياشت او 12 مياشتو مَدَني قافلې سفر کوي، د دې مَدَني قافلو مقصد څهٔ دے: ما ته د خپل ځان اِصلاح کول دي، سُنَّت زده کول دي، د نـمونځ، روژې وغيره بنيادي احکام زده کول دي او د دې سره سره د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح د پاره د نيکۍ دعوت عام کول دي- اَلْحَمْدُلِلّٰه! د 15 نومبر نه تر 15 دسمبر پورې ماهِ مَدني قافله نمانځلے کيږي، تاسو ته خواست دے چې د سُنَّتو زده کولو د پاره، د نيکۍ دعوت عام کولو د پاره او د فتنو نه د بچ کيدو د پاره تاسو هم د مَدَني قافلو مسافر جوړ شئ! اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيم! د دِين او د دُنيا بے شميره خيرونه به مو نصيب شي-

## د 9 غير مسلمو اِسلام قبلول

د حيدر آباد (انټيرئير سندھ، پاکستان) د يو اِسلامي ورور بيان دے چې يو ځل د عاشقانِ رسول يوه مَدَني قافله د حيدر آباد نه ټنډو آدم ته ورسيدله، د مَدَني قافلې عاشقانِ رسول درې ورځې ښه ډير د نيکۍ دعوت ورکړو، پهٔ اخرۍ ورځ يو غير مسلمه ګس د جومات مخې ته راغلو او د قافلې د امير سره يـې د ميلاؤيدو خواهش ظاهر کړو- د قافلې امير

اِسلامي ورور د جومات نه بهر راغلو، اوئې خاندل او د جوش په انداز کښې يې د هٔغه غير مسلمه سره ملاقات وکړو- هٔغه غير مسلمه وه وئيل: **اِسلام ډير** پاک **دِين دے، د امن او سلامتيا درس ورکوي** خو زهٔ مسلمان نهٔ يم- پهٔ دې باندې د قافلې امير اِسلامي ورور هغهٔ پوهه کړو او د اِسلام قبلولو دعوت يې ورکړو، اَلْحَمْدُلِلّٰه! هٔغه غير مسلمه هٔغه وخت کلمه وه وئيله او مسلمان شو-

د اِسلام قبلولو نه پس هٔغه نوي مسلمان شوي خواهش ظاهر کړو چې زما کور والا هم پوهه کړئ! اميد دے چې ستاسو پهٔ پوهه کولو به هغوئي هم ايمان راوړي- نو د هغوئي پهٔ خواهش باندې د مَدَني قافلې والا عاشقانِ رسول د هغوئي کور ته لاړل، د هغوئي کور والا (مثلاً پلار، ترهٔ، ورور وغيره) يې پوهه کړل، هغوئي له يې د اِسلام دعوت ورکړو نو اَلْحَمْدُلِلّٰه! **محنت** يې رنګ راوړو او د هغهٔ د کور والا 9 کسانو د اِسلام لمنه اونيوله-

وروستو د قافلې امير اِسلامي ورور د مسلمان شوي کس نه پوښتنه وکړه: تاسو د دِينِ اِسلام پهٔ باره کښې نرم زړهٔ لرلو، بيا تاسو دومره موده مسلمان ولې نه شوئ؟ هٔغه نوي مسلمان شوي اِسلامي ورور وه وئيل: ما چې د اِسلام پهٔ باره کښې پهٔ کتابونو کښې څهٔ لوستلي وو، هغه پهٔ ظاهره پهٔ نظر نه راتلل، کله چې ستاسو مَدَني قافله راغله نو ما د کتابونو والا اِسلام ژوندے ثبوت ستاسو پهٔ شکل کښې وليدلو، ما درې ورځې پرله پسې ستاسو معاملې پهٔ تنقيدي نظر سره وکتلې نو زما د زړهٔ نه هم دا اواز راغلو چې دوئي د اِسلام رښتوني پيروکار او باعمله عاشقانِ رسول دي- داسې مې زړهٔ د اِسلام د رښتوني دِين کيدلو ګواهي ورکړه او زهٔ مسلمان شوم- [1]

آؤ اے عاشِقیں! مل کے تبلیغِ دِیں — کافِروں کو کریں، قافلے میں چلو!
کافِر آجائیں گے، راہِ حق پائیں گے — اِنْ شَآءَ اللہ! چلیں، قافلے میں چلو!
کفر کا سَر جھکے، دِیں کا ڈنکا بجے — اِنْ شَآءَ اللہ! چلیں، قافلے میں چلو!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

[1] …باکردار عطّاری، صفحہ: 25۔

اَلْحَمْدُلِلّٰه!دا ده ستاسو دعوتِ اِسلامي--!! د فتنو پهٔ دې دور کښې چې هر طرف ته د ايمان ډاکوان پهٔ نظر راځي، ورځ تر بله فتنې راوچتيږي، ستاسو دعوتِ اِسلامي پهٔ دې دور کښې غير مسلمه مسلمانوي، کور کور ته عِلمِ دِين رسوي، پهٔ اخلاقو او کردار کښې مثبت بدلون راولي او د ايمان د حفاظت د پاره فکرمند ذِهنونه جوړوي- تاسو هم د مَدَني قافلو مسافر جوړ شئ! د 12 مياشتو، د يوې مياشت، د 12 ورځو، يا کم از کم د 3 ورځو پهٔ مَدَني قافله کښې هره مياشت د شرکت نيت وکړئ!

دل کی کَلیاں کِھلیں قافِلے میں چلو | رنج و غم بھی مِٹیں قافلے میں چلو
فضل کی بارِشیں ،رَحمتیں نعمتیں | گر تمھیں چاہئیں قافلے میں چلو

صَــلُّـوْا عَـلَی الْـحَـبِـیْـب! صَـلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُـحَـمَّد

## (2): عِلم به اوچت شي

پهٔ بخاري شريف کښې حديث دے، رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د قيامت پهٔ نخښو کښې دي چې عِلمِ دِين به اوچت شي، جهالت به عام شي-

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د قيامت دا نخښه هم پهٔ اوسني وخت کښې پوره کيدونکي پهٔ نظر راځي- افسوس چې نن سبا معلومات خو ډير زيات دي خو ❀ حقيقي عِلم ❀ کتابي عِلم ❀ تحقيقي عِلم کوم چې ❀ د قرآن او سُنَّت نه زده کړے شي ❀ د حديثونو لوستلو سره زده کړے شي ❀ د عاشقانِ رسول علمائے کرامو کتابونه ولوستلے شي او زده کړے شي، افسوس چې د هغه عِلم ډير کمے دے، د دې نه اندازه ولګوئ چې د نن سبا ځلمي د دِين زده کولو د پاره ❀ نهٔ قرآنِ کريم لولي ❀ نهٔ تفسيرونه لولي ❀ نهٔ د حديثو کتابونه لولي ❀ نهٔ دِيني کتابونه لولي بلکې د دِين زده کولو د پاره دِيني لټريچر يو اړخ ته کيږدي او سوشل ميډيا استعمالوي- بيا سوشل ميډيا خو سوشل ميډيا ده،

دلته خو هر قِسمه بازارونه دي، د چا په زړهٔ کښې چې څهٔ راځي، هغه وائي، د دې نتيجه څهٔ ده؟ کتابي عِلم ختمېږي او غير معياري معلومات عام کېږي-

## دکتابي عِلم نشتوالے هم وبال دے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! ياد ساتئ چې د کِتابي عِلم نشتوالے، صرف پهٔ اوريدلے شوو خبرو باندې يقين کول او کښيناستل، دا ډېره غټه بيماري ده- پهٔ بني اسرائيلو کښې چې کوم خلق ګمراهان شول، د هغوئي ايمان نصيب نه شو، د هغې يو سبب پهٔ قرآنِ کريم کښې دا هم بيان شو، ارشاد دے:

| | |
|---|---|
| وَمِنْهُمْ اُمِّيُّوْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ الْكِتٰبَ اِلَّآ اَمَانِيَّ (پاره:1، سورهٔ بقره:78) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او پهٔ هغوئي کښې څهٔ بے تعليمه دي کوم چې پهٔ کتاب نه پوهيږي خو اوريدلې خبرې يا د ځان نه څهٔ راجوړ کړي- |

معلومه شوه چې د کتاب نه جاهل کيدل، مثلاً ❀ قرآنِ کريم نهٔ زده کول ❀ حديث نهٔ زده کول ❀ د عاشقانِ رسول علمائے کرامو د کتابونو پهٔ ځائے پهٔ اوريدلے شوؤ خبرو پسې تلل ❀ هغه د عِلم او د تحقيق معيار جوړول، دا هم يو قِسم له جهالت دے کوم چې د ګمراهۍ سبب جوړيږي- نن دا خبره عام ده- دِين ټول پهٔ عربۍ ژبه کښې دے خو حالت دا دے چې د عربۍ د الف نه باء قدرې نه ورځي، قرآنِ کريم کوم چې پهٔ عربۍ ژبه کښې دے، احاديث کوم چې پهٔ عربۍ ژبه کښې دي، د دې لوستل نه ورځي او خلق بس پهٔ سوشل ميډيا باندې خبرې اورې او د علمائے کرامو خلاف ودرېږي، د قرآنِ او د حديث داسې داسې غلط تشريحات کولے شي چې اَلْاَمَان وَالْحَفِيْظ...!!

ځکه مونږ له پکار دي چې د کِتابي عِلم زده کولو طرفته راشو- کتابونه لولو، د علمائے کرامو پهٔ خدمت کښې حاضري کوو، د هغوئي نه پهٔ باقاعده توګه عِلمِ دِين زده کوو- اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! د عِلمِ دِين برکتونه به مو نصيب کيږي-

## د کتابي عِلم د زده کولو يوه ذريعه

اَلْحَمْدُلِلّٰه!دعوتِ اِسلامي پۀ دې وخت کښې په عِلمِ دِين عام کولو کښې مصروف دے، ❁ د مدرسة الـمدينه پۀ ذريعه د قرآنِ کريم د حفظ او ناظرې تعليم عام کيږي، دغه شان ❁ جامـعة الـمدينه ❁ فيضان آن لائن اکيډمي ❁ هفته واره مَدَني مذاکره ❁ مَدَني قافلې وغيره د عِلمِ دِين زده کولو بهترينې ذريعې دي- پۀ دې کښې يوه ذريعه **هفته واره رساله مطالعه** هم ده- اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته پۀ مَدَني مذاکره کښې د يوې رسالې د لوستلو ترغيب ورکوي، مختصره، معلوماتي او تحقيقي رساله وي، پۀ اسانه اُردو کښې ليکلے شوې وي، پۀ دې کښې د هرې يوې خبرې حواله هم ورکړے شوې وي، اَلْحَمْدُلِلّٰه!د ټولې دُنيا پۀ لکونو عاشقانِ رسول د دې رسالې د لوستلو يا د آډيو (***Audio***) اوريدو سعادت حاصلوي- تاسو هم د هفته وارې رسالې د لوستلو عادت جوړ کړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! د ډير زيات عِلمِ دِين د زده کولو سعادت به مو نصيب شي-

لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو | سیکھنے سنّتیں قافلے میں چلو
علم حاصل کرو جہل زائل کرو | پاؤ گے راحتیں قافلے میں چلو

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د حلالو او حرامو پۀ معامله کښې بے پروائي

د حضرت ابو هريره رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه روايت دے، د **الله** پاک آخري نبي، مُحَمَّد عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: پۀ خلقو باندې به يوه زمانه داسې راشي چې د انسان سره به د دې خبرې هيڅ پروا نه وي چې هغۀ (مال) د کوم ځائے نه حاصل کړو د حرامو نه که د حلالو نه-

د قرآنِ كريم مشهور مفسر، حكيم الأُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه د دې حديث په شرح كښې فرمائي: يعني په اخره زمانه كښې به خلق د دِين نه بے پروا شي، د خېټې په فِكر كښې به هر قِسمه راګير شي، د امدن زياتولو او د مال جمع كولو فِكر به كوي، په هر حرام او حلال اخستو باندې به زړور شي لكه څنګه چې نن سبا عام دي-

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! دا وخت واقعي ده چې راغلے دے، نن سبا د حلالو او حرامو پروا چرته كيږي ❀ د سود لَين دين عام دے ❀ رشوت عام دے ❀ په ناپ تول كښې كمے زياتے كيږي ❀ كوم چې ملازمان دي ❀ نوكر پيشه دي، چې هغوئي په پوره ايماندارئ سره كار وكړي، دا هم ډير كم دي ❀ په دروغو وئيلو او ❀ د دروغو په قسمونو خوړولو سودا خرڅولے كيږي او په دې باندې ډير په زړورتيا سره وئيلے كيږي: **د رښتياؤ زمانه نۀ ده، اوس د دروغو نه بغير كار نه كيږي-**

لَاحَوۡلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ! دروغژن په چا باندې چې د **اللّٰه** پاک لعنت وريږي، آيا مَعَاذَاللّٰه! هغۀ ته رزق ميلاؤيږي، رښتيا ويونكي ته نۀ ميلاؤيږي؟ **اللّٰه** پاک دې زمونږه هدايت نصيب كړي- حلال خوړل ډير ضروري دي- دا خبره ياده ساتئ! چې د بنده د دِين بنياد په حلاله نمړئ باندې دے- د چا خوراک چې حلال وي ❀ د هغۀ دعاګانې هم قبليږي ❀ په عبادت كښې يې لذت هم راځي ❀ د نيكو توفيق يې هم نصيب كيږي ❀ په زړۀ كښې يې نُور هم راځي ❀ او په مال كښې يې بركت هم نصيب كيږي-

## د يوې سِكّې كمال

مُلّا جيون رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه د هندوستان يو لوئي عالِم تير شوے دے، د مغل سلطنت د بادشاه اورنګزيب عالمګير استاذ وو- يو ځل اورنګزيب عالمګير رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه خپل استاذ صاحب له دعوت وركړو، كور ته يې راوبللو، ډير عزت يې ورله وكړو- بيا بادشاه خو بادشاه وي، د هغۀ سره د مال او دولت څۀ كمے وي، كه غوښتلے يې وے نو د استاذ محترم په

خدمت کښې يې ډير رقم هم وړاندې کولے شو خو بادشاه عالمګير رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د استاذ صاحب په خِدمت کښې صرف يو دوه انيز وړاندې کړو- د دوه انيز مطلب دے دوه آنې: په يوه روپۍ کښې 16 آنې وي، نو داسې د روپۍ اتمې حصّے ته دوه انيز وائي.

د دې واقعې يو څو کاله تير شول، بادشاه سلامت په خپلو حکومتي کارونو کښې مصروف شو، مُلّا جيون رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه په مدرسه کښې سبق ښودلو- تقريباً د 12 نه تر 14 کاله پس بادشاه عالمګير رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه خبر شو چې د هغوئي استاذِ محترم خو ډير مالداره شوے دے، مخکښې به يې يو وړوکے شان کور وو، اوس يې غټ کور هم اخستے دے، مال او دولت ورسره هم زيات دے- دا يې چې واوريدل نو بادشاه ډير حيران شو- خير څو کاله پس يې ورسره بيا ملاقات وشو نو استاذِ محترم مُلا جيون رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه هُم پخپله وه وئيل: اورنګ زيب! تا چې کوم دوه انيز راکړے وو، هغې ډير برکت وکړو، ما چې هغه په کاروبار کښې ولګولو نو په يو څو ورځو کښې ډيره منافع ميلاؤ شوه او په لږه موده کښې زۀ مالداره شوم-

بيا بادشاه سلامت په معامله باندې پوهه شو- عرض يې وکړو: استاذِ محترم! هٌغه دوه انيز څنګه وو، د هغې راز درته هم بيان کړم؟ اوئې فرمائيل: ضرور يې بيان کړئ! بادشاه سلامت فوراً يو سپاهي وليږلو، اوئې وئيل: په فلانکۍ محله کښې چې کوم د غلے سوداګر اوسيږي، هغۀ ته وه وايئ چې د فلانکي کال کهاته راواخلئ او زما خوا له راشئ- د غلے سوداګر حاضر کړے شو، بادشاه حکم وکړو: کهاته برسيره کړه او اوئې لوله! هغۀ لوستل شروع کړل: دومره رقم مې فلانکي له ورکړو، دومره رقم مې د فلانکي نه واخستو، داسې هغۀ وئيل: بادشاه سلامت او ملا جيون رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡهِمَا په توجه باندې اوريدل- يو ځائے ته چې ورسيدو نو بښيا خاموشه شو، حکم وشو: ولې نه لولې؟ وړاندې هم لوله! سوداګر وه وئيل يو دوه انيز مې نامعلومه کَس له ورکړو-

بادشاه پوښتنه وکړه: دا نامعلومه ګس څوک دے؟ سوداګر يو سوړ اسويلے وکړو او اوئې وئيل: بادشاه سلامت! دا د يوې شپې واقعه ده، زۀ پۀ خپل کور کښې ووم، باران وريدو، هُغه وخت زما د کور چهت راڅڅيدلو، شپه وه، د باران موسم وو، هُغه وخت مستري مزدور وغيره چرته ميلاؤيدل، بهر حال! زۀ بهر لاړم، ما ته يو ګس ميلاؤ شو، ما وګڼل چې څوک مزدور به وي، ما هغۀ ته وه وئيل: وروره! زما چهت صحيح کړه! هغۀ زما سره راغلو، ټوله شپه يې کار وکړو، هغۀ ډير ښه کار وکړو، چې څنګه فارغ شو نو د سحر اذان وشو، ما د هغۀ شکريه اداکړه، هُغه وخت زما سره صرف دوه انيز وو، ما هغۀ له ورکړو او اومې وئيل: اوس دا واخله! سحر دکان ته راشه او باقي پاتې رقم واخله- هغۀ ښه سړے وو، اوئې وئيل: زما د پاره دا دوه انيز هم کافي دے- زۀ سحر نشم راتللے-

هُغه ګس ډير ښه کار کړے وو او پۀ کومه سختته کښې چې زما پۀ کار راغلے وو، د هغې اُجرت ډير کيدو خو هغۀ هم هُغه دوه انيز واخستو او لاړو، زۀ تر ننه پورې هغۀ لټووم چې د هغۀ خِدمت وکړم خو پته نه لګي چې څوک وو، بيا ميلاؤ نه شو-

دا واقعه چې يې واوريدله نو بادشاه سلامت سوداګر واپس وليږلو- بيا يې د استاذِ محترم طرف ته مخ راواړولو او عرض يې وکړو: عالي جاه! هُغه ګس کوم چې د شپې د هُغه بنيا پۀ کور کښې مزدوري کړې وه هغۀ هم زۀ ووم، هُغه دوه انيز زما د خپل محنت ګټه وه، 100 فيصده حلالې وې، څکه هغه ما تاسو ته وړاندې کړلې، څکه پۀ دې کښې دومره برکت پيدا شو-

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا دے د حلالو برکت--!! خلق وائي چې د دروغو نه بغير ګزاره نه کيږي، دکان نه چليږي، دوئي پۀ ظاهره خو پيسې زياتې وګټي خو پوره کيږي نۀ، هُغه د دروغو پۀ ذريعه ګټلے شوے پيسې  کله پۀ بيمارو لګي، کله پۀ فضولياتو کښې لګي، څکه حلال ګټئ! د حرامو نه ځان لرې ساتئ! پۀ حلاله ذريعه

باندې به اګر چې پيسې کمې راشي خو په هغې کښې به برکت وي- **الله** پاک دې مونږ ته د حلالو ګټلو، هُم د حلالو خوړلو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## مور او پلار ازارول

د قيامت د رانزدې کيدو يوه بله نخښه واورئ! يو ځل حضرت جبريلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام په انساني شکل کښې په بارګاهِ رسالت کښې حاضر شو، هغوئي د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه يو څو پوښتنې وکړې، نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې د هغې کوم جوابونه ارشاد کړل په هغې کښې يوه پوښتنه دا وه: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! د قيامت يو څو نخښې بيان کړئ! نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يوه نخښه دا ارشاد کړله: اَنْ تَلِدَ الْاَمَةُ رَبَّتَهَا يعني د قيامت په نخښو کښې يوه نخښه دا ده چې زنانه به خپل آقا زيږوي- علمائے کرامو د دې يو مطلب دا بيان کړو چې قيامت ته نزدې به د مور پلار قدر بالکل نه کيږي، اولاد به په خپلې مور داسې حکم چلوي، لکه څنګه چې آقا په خپلو غُلامانو باندې حکم چلوي-

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د قيامت دا يوه نخښه هم تقريباً پوره شوې ده- آه! اوس خلق د خپل مور پلار ډير کم قدر کوي ❀ چې مور پلار بوډاګان شي نو نافرمانه اولاد ته بوجِ ښکاري ❀ داسې نادانه هم دي کوم چې د مور پلار د خدمت کولو او د جنَّت د حقدار جوړيدو په ځائے هغوئي په اولډ هاؤس کښې پريږدي او راځي تري- د دې نه علاوه ❀ مور پلار ته کنځل کول ❀ په هغوئي باندې حکم چلول ❀ په وړه وړه خبره باندې د هغوئي په مخکښې غصې کول ❀ چغې وهل ❀ هغوئي رَټل ❀ ديکې ورکول، دا خو ډيرې عامې خبرې دي، بعضې وخت ښه تعليم يافته خلق هم مور پلار ته د جهالت پيغورونه ورکوي، بابا تاسو ته څهٔ پته ده، مورې تهٔ د څهٔ نه خبر يې، زمانه بدله شوې ده،

داسې خبرې عام طور اولاد کوي- د دې نه علاوه هم پۀ ډيرو طريقو د مور پلار بے ادبي کولے شي، تر دې پورې چې پۀ مور پلار باندې د زور زياتي واقعې هم پۀ اخبارونو کښې راځي بلکې اوس خو داسې نافرمانه هم شته کوم چې د مور پلار د وژلو نه هم نۀ پښا کيږي، داسې خبرونه هم د يو ځائے او بل ځائے نه راځي-

## مور پلار ازارول حرام دي

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! مور پلار زمونږه پۀ دُنيا کښې جنَّت دے- د دوئي ادب ډير ضروري دے- پۀ قرآنِ کريم کښې ډير داسې ځايونه دي چرته چې **اللّٰه** پاک د خپل عبادت او د مور پلار د خِدمت حکم پۀ يو ځائے ورکړے دے- ارشاد دے:

| | |
|---|---|
| اَنِ اشْكُرْ لِیْ وَ لِوَالِدَیْكَؕ<br>(پاره:21، سورۀ لقمان:14) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: چې زما او د خپل مور او پلار شکر ادا کړۀ- |

پۀ يو ځائے کښې ارشاد دے:

| | |
|---|---|
| وَ قَضٰى رَبُّكَ اَلَّا تَعْبُدُوْۤا اِلَّاۤ اِیَّاهُ وَ بِالْوَالِدَیْنِ اِحْسَانًاؕ<br>(پاره:15، سورۀ بني اسرائيل:23) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او ستاسو رب حکم فرمائيلے چې د هغۀ نه سِوا د هيڅا عبادت مۀ کوئ او مور پلار سره ښه سلوک کوئ- |

وګورئ چې دا څومره اوچت مقام دے، **اللّٰه** پاک حکم وکړو: اے بندګانو! زما شُکر ادا کړئ! زما عبادت وکړئ! بيا يې د دې حکم سره يو بَل حکم وتړلو او حکم يې وکړو، اوئې فرمائيل: زما د شُکر سره د مور پلار شُکر هم ادا کوئ! زما د عبادت سره سره د مور پلار سره نيک سلوک هم کوئ---!!

د دې نه معلومه شوه چې لکه څنګه د **اللّٰه** پاک د عبادت نه مخ اړول ډيره **محرومي** ده، هم داسې د مور پلار بے ادبي کول هم ډيره لويه ګناه ده- اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه ليکي:

د پلار نافرماني د الله جَبَّار او قَهَّار نافرماني ده او د پلار خفګان د الله جَبَّار او قَهَّار خفګان دے، انسان چې مور پلار راضي کړي نو دا د هغوئي جنَّت دے او که ناراضه يې کړي نو هم دوئي د هغهٔ دوزخ دے- تر څو پورې چې پلار راضي نه کړي، نو د هغهٔ هيڅ فرض، هيڅ نفل، هيڅ نيک عمل اَصلاً قبول نه دے، د اخرت د عذاب نه علاوه به پهٔ دُنيا کښې هم پهٔ ژوند کښې پرې سخت آفت نازليږي، د مرګ کيدو پهٔ وخت مَعَاذَالله! د کلمې نهٔ نصيب کيدو ويره ده-

## د ظالِم مور پلار هم فرمانبرداري لازمي ده

د حضرت عبد الله ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهما نه روايت دے چې رسولِ هاشمي، مکي مَدَني صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: چا چې پهٔ داسې حالت کښې سبا کړو چې د خپل مور پلار فرمانبرداره دے، د هغهٔ د پاره هُم دسحر نه د جنَّت دوه دروازے برسيره کولے شي او که پهٔ مور پلار کښې يو وي نو يوه دروازه برسيره کيږي- او چا چې پهٔ داسې حال کښې ماښام کړو چې د مور پلار پهٔ باره کښې د الله پاک نافرماني کوي د هغهٔ د پاره هُم دسحر نه د دوزخ دوه دروازے برسيره کولے شي او (که پهٔ مور پلار کښې) يو وي نو يوه دروازه برسيره کيږي- يو ګس عرض وکړو: اګر که مور پلار پهٔ هغهٔ باندې ظلم کوي- اوئې فرمائيل: **اګر که ظلم کوي، اګر که ظلم کوي، اګر که ظلم کوي-**

## هره دُعا به يې قبلووم

يو ځل د الله پاک نبي حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام چرته پهٔ سفر باندې وو، پيدل روان وو، پهٔ تللو تللو هغوئي څهٔ ستړے والے محسوس کړو- الله پاک وحي راوليږله: اے موسیٰ! نزدې يو غر دے، هلته تشريف يوسئ! د هُغه غر پهٔ غار کښې به يو ګس وي، هغهٔ به ستاسو د پاره د سورلۍ انتظام وکړي-

اوس وګورئ! څومره کرم دے ❁ که الله پاک غوښتلے نو پخپله به يې ورله د سورلۍ انتظام کړے وے ❁ که الله پاک غوښتلے نو هوا به هغوئي وړي وو ❁ وَنو به د هغوئي د پاره د سورلۍ کار کړے وے ❁ بلکې الله پاک ته څۀ ګرانه خو نه وه ❁ که هغۀ غوښتلے نو زمکه به يې ورته رالنډه کړے وے ❁ هغوئي به هډو تلل نه او منزل ته به رسيدلي وو خو دا د الله پاک کرم دے، څوک چې د الله پاک عبادت کوي، الله پاک د خپلو نبيانو پۀ مخکښې د هغۀ نيک نامي ظاهروي۔

خير! حضرت موسیٰ عَلَيۡهِ السَّلَام هُغه غار ته ورسيدلو، هُغه ګس هغوئي نۀ پيژندلو، هغوئي وفرمائيل: مونږ ته يوه سورلۍ پکار ده! هُغه ګس فوراً وريځې ته حکم وکړو: اے وريځې رانښکته شه! دوئي خپل منزل ته ورسوه! وريځ هُغه وخت رانښکته شوه او حضرت موسیٰ عَلَيۡهِ السَّلَام پخپله هغې ته وختلو۔ حضرت موسیٰ عَلَيۡهِ السَّلَام ډير حيران شو، د الله پاک پۀ بارګاه کښې يې عرض وکړو: اے الله پاکه! دا بنده څوک دے؟ الله پاک وفرمائيل: اے موسیٰ! دا د خپلې مور فرمانبرداره دے، دۀ د خپلې مور ډير خدمت وکړو، چې کله د هغې اخري وخت راغلو نو هغې ورته دعا وکړه: زويه! زۀ ستا نه راضي يم، الله پاک دې هم ستا نه راضي شي۔ ځکه زۀ د هغۀ نه راضي شوم، که دا بنده دعا وکړي چې مولیٰ! سور غر تور او تور غر سور کړې نو د دۀ پۀ دعا باندې به زۀ دا هم وکړم۔

سُبۡحٰنَ الله! دا دے د مور پلار د ادب او د احترام برکت--!! نن پۀ دُنيا کښې څومره پريشانۍ دي ❁ د صحت پريشانۍ ❁ د بال بچ پريشانۍ ❁ تنګ دستي ده ❁ بے روزګارۍ ده❁ قرضونه دي ❁ کار نه کيږي ❁ روزګار نه ميلاؤيږي ❁ او پۀ زرګونو قِسمه پريشانۍ دي، چا ته چې هم ګورې نو د غمونو يوه بيله قيصه ورسره وي۔ څومره اسانه خبره ده، پۀ کور کښې مور پلار موجود دي، هغوئي راضي کړئ، د هغوئي خدمت وکړئ، د هغوئي دعاګانې واخلئ، الله پاک به مو پريشانۍ هم ختمې کړي، اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِيۡم!

د قبر او د اخرت د امتحان نه به هم نجات حاصل شي- **الله** پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق را کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

## په جوماتونو کښې به د دُنيا خبرې کيږي

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د قيامت په نخښو کښې يوه نخښه دا ده چې قيامت ته نزدې به په جوماتونو کښې د دُنيا خبرې کولے شي- په **حديثِ پاک** کښې دي: يوه زمانه به راځي يَكُوْنُ حَدِيْثُهُمْ فِيْ مَسَاجِدِهِمْ فِيْ اَمْرِ دُنْيَاهُمْ څه خلق به په جوماتونو کښې دُنياوي خبرې کوي، فَلَا تُجَالِسُوْهُمْ فَلَيْسَ لِلّٰهِ فِيْهِمْ حَاجَةٌ تاسو د هغوئي سره مهٔ کښينئ چې د **الله** پاک د هغوئي سره هيڅ کار نشته-

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې **حديثِ پاک** په شرح کښې فرمائي: يعنې **الله** پاک به په هغوئي باندې کرم نه کوي، ځکه چې د رَبّ خو چا بنده ته ضرورت نشته، هغهٔ د ضرورتونو نه پاک دے-

د بده قسمته په جوماتونو کښې د دُنيا خبرې عام کيږي، افسوس چې د عِلمِ دِين نه د لرې والي له وجهې نن سبا په جومات کښې د کښيناستو سره ډير په ډاډه زړهٔ او په غير سنجيدګۍ سره يواځې دنيائي خبرې نه کيږي بلکې په پوهې ناپوهې کښې داسې کارونه هم کيږي کوم چې د جومات د آدابو خلاف دي- غور خو وکړئ چې په جومات کښې د دُنيا خبرې کوونکي څومره بدقِسمته دي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نور خلق د دوئي د صحبت اختيارولو نه منع کړي دي-

## په جومات کښې خبرې کول نيکۍ خوري

حضرت علاّمه علي قاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: په جومات کښې مُباح (يعني په کومه کښې

چې نۀ ثواب وي او نۀ ګناه، داسې جائزه) خبره کول مکروه دي او نيکۍ خوري. (1)

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا د ويريدو خبره ده، وړومبے خو مونږه نيکۍ ځومره کوؤ؟ که پۀ جومات کښې خبرې وکړو او خپلې کړې نيکۍ هم برباد کړو نو زمونږه به څۀ کيږي---؟ څکه د جومات ادب او احترام وکړئ! پۀ جومات کښې د دنيائي خبرو نه ځان وساتئ! دا يو افسوسناک حالت دے چې ډيرو خلقو ته د جومات آداب هم معلوم نه وي، دا هم د زدکړې خبرې دي، مونږ له زده کول پکار دي- د اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه ډير ښکلے کتاب دے: فيضانِ رمضان- پۀ دې کښې د جومات آداب پۀ تفصيل سره ليکلے شوي دي، پۀ اسانه اُردو کښې ليکلے شوے کتاب دے، ټولو له پکار دي چې دا کتاب حاصل کړي، دا ولولي، اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! د عِلمِ دِين غټه خزانه به مو نصيب شي-

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا د قيامت يو څو نخښې ما ستاسو پۀ مخکښې عرض کړې، د دې نه علاوه هم پۀ حديثونو کښې د قيامت ډيرې نخښې بيان شوې دي او پۀ هغې کښې اکثره هغه دي کومې چې تقريباً پوره شوې دي- دا ټول هغه کارونه دي د کومو نه چې مونږ ته عبرت حاصلول پکار دي، د دې ګناهونو نه بچ کيدل پکار دي- څکه پۀ ځان کښې د قبر او د اخرت ويره زياته کړئ! د اخرت فِکر اختيار کړئ! پۀ قبر او اخرت کښې د کاميابۍ موندلو د پاره نيک نـمونځ ګزاره جوړ شئ! الله پاک دې مونږ ټولو ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## پۀ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: مَدَني کورسز

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اِسلامي د عِلمِ دِين نُور تقسيموونکے تحريک دے، کوم چې پۀ مسلمانانو کښې پۀ عِلمِ دِين

[1]...مرقاة المفاتيح، کتاب الصلاة، باب المساجد... الخ، جلد:2، صفحه:418، زيرِ حديث:743-

تقسيمولو کښې مصروف دے- د دعوتِ اِسلامي دا کوشش دے چې مسلمان کم از کم فرض عِلمِ دِين لکه د اودس، غسل، نـمونځ، روژې، زکوٰة وغيره ضروري مسئلې زده کړي- تاسو هم د دعوتِ اِسلامي د دِيني ماحول سره خپل تړون وساتئ! په 12 دِيني کارونو کښې ښه پوره برخه واخلئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! د دِين او د دُنيا بے شميره خيرونه به درنصيب شي- په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار **مَدَني کورسز** هم دے- اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي د انتظام لاندې ډير **شارټ کورسز** کولے شي مثلاً ❀ د 7 ورځو فيضانِ نماز کورس ❀ د 7 ورځو د 12 ديني کارونو کورس ❀ د 7 ورځو اِصلاحِ اَعمَال کورس وغيره- ❀ **په دې دِيني کار کښې د شرکت کولو سره به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم!** ډير برکتونه درنصيب شي ❀ چې دِين زده کړئ نو **الله** پاک به راضي شي ❀ په رزق کښې به مو برکت راشي ❀ د عِلمِ دِين خزانه به حاصله کړئ ❀ د نيکو ذِهن به مو جوړيږي ❀ د **الله** پاک عبادت چې په صحيح انداز وکړئ نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! کرم به هُم کيږي ❀ بيا به دِيني ماحول هم ميلاؤيږي ❀ د نيکانو خلقو صحبت به مو نصيب کيږي، د دې خپل برکتونه دي-

## د دوؤ ورونړو د اِصلاح راز

د يو اِسلامي ورور د بيان خلاصه ده: ديني ماحول ته د راتلو نه وړاندې زۀ په قِسما قِسم ګناهونو کښې اخته ووم، زما بخت څۀ داسې رابيدار شو چې زما مشر ورور د اِسلامي ورونړو د نيکۍ په دعوت باندې د **63 ورځو مَدَني تربيتي کورس** کښې داخله واخسته- د **تربيتي کورس** کولو نه پس چې کله زما ورور کور ته تشريف راوړو، ټول کور والؤ چې دا اوليدل نو ډير حيران پاتې شول چې هغۀ بالکل بدل شوے وو، د سُنَّتو مطابق جامې، په سر يـې عمامه شريف وه- زۀ د هغۀ د اخلاقو او کردار نه ډير متاثره شوم- اَلْحَمْدُلِلّٰه! زما ورور ما له هم د نيکۍ دعوت راکړو او زۀ يـې هم د ځان سره هفته وارې د سنّتو ډکې اجتماع ته بوتلم- د ورور جان په پوهه کولو باندې ما هم **د 63 ورځو په مَدَني تربيتي**

کورس کښې داخله واخسته، په کوم کښې چې د شريعت د بے شميره مسئلو، سنتو او دعاګانو زده کولو موقع ميلاؤ شوه- په ما باندې د کريم رَبّ ډير احسان دے چا چې ما ته د خپل حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په وسيله د دعوتِ اِسلامي ښکلے ښکلے ديني ماحول راعطا کړو- (1)

| | |
|---|---|
| عطائے حبیبِ خدا دِینی ماحول | ہے فیضانِ غوث و رضا دِینی ماحول |
| اگر سنّتیں سیکھنے کا ہے جذبہ | تم آجاؤ دیگا سکھا دِینی ماحول (2) |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## نعت کوليکشن (*Naat Collection*) موبائل ايپلي کيشن

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! نن سبا د ټيکنالوجي دور دے- اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اِسلامي د سمارټ فون (*Smartphone*) په ذريعه هم عِلم دِين عام کوي- دې لړ کښې د دعوتِ اِسلامي د آئي ټي ډيپارټمنټ له خوا يو موبائل ايپلي کيشن جاري کړے شوے دے: د کوم نوم چې *Naat Collection* (نعت کوليکشن) دے- ❀ په دې ايپ کښې د اعلیٰ حضرت، مولانا حامد رضا خان، مفتيِ اعظم هند، مولانا حسن رضا خان، مولانا جميل رضوي، مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم او د امير اهلسُنَّت مولانا محمد الياس قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه کلامونه شامل کړے شوي دي ❀ په هره مجموعه کلام کښې کلامونه د حروف تهجي او رديف په ترتيب سره کتلے شئ- د سرچ بار په ذريعه د خپلې خوښې کلام په آسانئ سره لټولے شئ ❀ مختلف کلامونه په آډيو/ويډيو کښې اوريدے او فري ډاؤن لوډ کولے هم شئ ❀ د خپلې خوښې په کلام نخښه لګولے شئ او بيا بيا يې اوريدے شئ ❀ تاسو د

1...بریک ڈانسر کیسے سدھرا، صفحہ:10تا12۔
2...وسائلِ بخشش، صفحہ:646۔

خپلې خوښې کلام پهٔ **مائي کليکشن** ***My Collection*** فيچر کښې محفوظ کولے شئ۔ کلام يا شعر کاپي کولے شئ او پهٔ واټس ايپ، فيس بک، ټويټر وغيره باندې يــې شيئر کولے هم شئ۔ دا ايپ پخپله هم ډاؤن لوډ کړئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ۔

## يو څو ضروري اِعلانات

❁ د هر خالي پهٔ ورځ اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِيَه پهٔ **مَدَني چينل** باندې **لائيو هفته واره مَدَني مذاکره** کوي، د راتلونکې هفتې پهٔ ورځ به هم د ماسخوتن د نــمانځهٔ نه پس پهٔ مَدَني چينل باندې (تقريباً پاؤ باندې آته بجے) اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡكَرِيم! هفته واره مَدَني مذاکره کيږي، پهٔ کومه کښې چې به شيخ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي۔ ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول پهٔ دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت وکړئ او نورو له دې هم دعوت ورکړئ ❁ شيخ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِيَه هره هفته د يوې دِيني رسالې د لوستلو اعلان کوي، پهٔ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د رساله **د غِيبت د تباهيانو نه مدني ګلونه** اعلان کولے شي۔ دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د **اللّٰه** پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر **(*Share*)** کړي! ❁ پهٔ وړوکوالي کښې د قرآن حفظ کوونکي، د 20 کالو پهٔ عمر کښې د ټولو علومو حاصلوونکي او عالِم جوړيدونکي او د ډيرو خاصيتونو مالک د **اللّٰه** پاک د ولي حضرت احمد کبير رِفَاعي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د سيرت لوستلو د پاره رساله **شانِ احمد کبير رفاعي** د مکـتبة الـمدينه د يوې څانګې نه پهٔ **12 روپۍ** پهٔ بيعه واخلئ! پخپله يــې هم ولولئ! او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ!

صَــلُّــوۡا عَــلَى الۡــحَـبِـيۡـب!   صَـلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُـحَمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د بيان په اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِي فَقَدْ اَحَبَّنِي وَمَنْ اَحَبَّنِي كَانَ مَعِي فِي الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغهٔ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغهٔ به په جنّت کښې زما سره وي- (1)

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د وعدې پابندي سُنَّت ده

د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 2 فرامين مبارک دي: (1): څوک چې وعده نه پوره کوي، د هغه هيڅ ايمان نشته- (2)(2): کوم مسلمان چې د خپل ورور سره وعده خلافي وکړي په هغهٔ باندې د الله پاک او د فرښتو او د ټولو انسانانو لعنت دے- (3)

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! وعده پوره کول سُنَّتِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بلکې سُنَّتِ انبيا دي ❀ زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په خپله وعده کلک ولاړ وو او ❀ وعده ماتول به يې نه خوښول ❀ د نبوت د اعلان نه مخکښې يو ځل يو کَس هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته عرض وکړو چې: تاسو ودرېږئ! زه دا دے اوس راځم، هغه کَس لاړے خو واپس راتلل ترينه هير شول، 3 ورځې پس هغهٔ ته بيا ورياد شول، چې کله هغه هٔغه ځائے ته راورسيدو نو حيران پاتې شو چې خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د 3 ورځو تيريدو باوجود هم په هغه ځائے کښې تشريف فرما وو او

---

1... تاریخ دمشق، جلد:9، صفحہ:343-
2... مصنف اِبْنِ اَبِی شیبہ، کتاب:الایمان، جلد:7 صفحہ:223-
3... بخاری، کتاب: جزیہ، صفحہ:815، حدیث:3179-

مَاشَآءَاللہ! شفقت او رَحمت او ښه اخلاقو ته يــې وګورئ! چې رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه ګس اونه رټلو او نه پۀ جلال کښې راغلے، بس دومره يــې ووفرمائيل: اے سړيه! تا زه پۀ مشقت کښې واچولم- [1] الله پاک دې مونږ هم پۀ سُنّتِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې عمل کوونکي او وعده پوره کوونکي جوړ کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتـبة الـمدينه د بهارِ شريعت جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِيَه د 91 صفحو رساله 550 سُنّتیں اور آداب واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اِسلامي پۀ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے-

سنتیں سیکھنے تین دِن کے لئے | ہر مہینے چلیں، قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعنې د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعنې د جُمُعے او زيارت مينځنۍ شپه کښې) دا دُرُود شريف پۀ پابندۍ سره ڪم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ پۀ وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر ته د خپل رَحمت نه پۀ ډکو لاسونو باندې

[1]...اَبُوداوٗد، کتاب ادب، باب فی العدة، صفحہ: 781، حدیث: 4996-

کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ
الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سيِّدُنا انَس رضی اللہ عنہ نه روايت دے چې تاجدارِ مدينه صلی اللہ علیہ والہٖ وسلّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو د كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته كړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِى رحمۃ اللہ علیہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل

---

1 . . . افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

2 . . . القول البديع، الباب الثانى، ص۲۷۷

لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[1] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ
صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے ﷺ

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُم حيران شول چې دا څوك ذِى مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[3] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

---

1... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ الثانیۃ والخمسون، ص۱۴۹

2... القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

3... الترغیب والترہیب، کتاب الذکر والدعاء، ۲/۳۲۹، حدیث:۳۰

## ﴿1﴾ د یو زر ورځو نیکۍ:

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رضی اللہ عنہما نه رِوایت دے چې سرکارِ مدینه صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم فرمائیلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې د یو زر ورځو پورې نیکۍ لیکي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو:

جَزَی اللّٰہُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا ھُوَ اَھْلُہٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[2] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو:

لَآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ الْحَلِیْمُ الْکَرِیْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰہِ
رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِیْم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

1 . . . مجمع الزوائد، کتاب الادعیۃ، باب فی کیفیۃ الصلاۃ. . .الخ، ۱۰/۲۵۴، حدیث:۱۷۳۰۵

2 . . . تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث:۴۴۱۵